# اې هلکه، زه تا ته څو خبرې درښايم: الله په ياد لره، هغه به ستا ساتنه وکړي، الله په ياد لره، هغه به دې په وړاندې ومومې، کله دې چې څه غوښتل نو له الله څخه يې وغواړه، او کله دې چې مرسته غوښتله، نو له الله نه يې وغواړه

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې: كُنْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا، فَقَالَ: «يَا غُلَامُ، إِنِّي أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ، احْفَظِ اللهَ يَحْفَظْكَ، احْفَظِ اللهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ، إِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللهَ، وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللهِ، وَاعْلَمْ أَنَّ الْأُمَّةَ لَوِ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ، لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللهُ لَكَ، وَلَوِ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ، لَمْ يَضُرُّوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللهُ عَلَيْكَ، رُفِعَتِ الْأَقْلَامُ وَجَفَّتِ الصُّحُفُ». زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره شاته په سپرلۍ سپور وم نو ويې ويیل:« اې هلکه، زه تا ته څو خبرې درښايم: الله په ياد لره، هغه به ستا ساتنه وکړي، الله په ياد لره، هغه به دې په وړاندې ومومې، کله دې چې څه غوښتل نو له الله څخه يې وغواړه، او کله دې چې مرسته غوښتله، نو له الله نه يې وغواړه او پوهه شه چې: که دا ټول خلک راغونډ شي تر څو تاته د څه ګټه دررورسوي، نو هغوی به تاته هېڅ ګټه و نه رسوي پرته له هغې چې الله درته ليکلی وي، او که دوی راغونډ شي تر څو تاته يو څه ضرر دورسوي، نو هيڅ ضرر به در ونه رسوي له هغه پرته چې الله تعالی درته ليکلي وي. قلمونه پورته شوي او کاغذونه وچ شوي دي.»

[صحيح] [ترمذی روایت کړی دی]

ابن عباس رضي الله عنهما خبر ورکوي چې هغه کوچنی و او د رسول الله صلى الله عليه وسلم پسې شاته په سپرلۍ ناست و، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وویل: زه تاته يو څه کارونه او شيان درښايم چې الله تعالی به پرې ګټه دروسوي: الله - تعالی - په ياد لره د هغه د اوامرو په ساتلو او له منهياتو څخه يې په ځان ژغورلو سره، داسې چې په اطاعت او عبادت کې دې ومومي او په نافرمانۍ او ګناهونو کې دې ونه مومي، که چېرته دې داسې وکړل، نو بدل به دې دا وي چې الله تعالی به دې د دنيا او آخرت له سختيو وساتي او په هر ځای کې چې يې نو په چارو کې به دې درسره مرسته وکړي. او کله دې چې څه غوښتل نو يوازې له الله جل جلاله يې وغواړه، ځکه يوازې هغه - ذات دی چې - سوال کوونکو ته ځواب ورکوي (دعا يې قبلوي). او که مرسته غواړې نو يوازې له الله تعالی نه مرسته وغواړه. او بايد دا باور ولرې چې که د ځمکې ټول خلک تاته د ګټې رسولو لپاره راغونډ شي، تاته هېڅ ګټه لاسته نه درځي مګر هغه چې الله - جل جلاله - درته ليکلې ده، او که د ځمکې ټول خلک تاته د ضرر رسولو لپاره راغونډ شي، نو تاته به هېڅ ضرر ونه رسيږي مګر هغه چې الله تعالی درته ليکلی دی. او دا چې دا کار د الله پاک لخوا د هغه د حکمت او پوهې له مخې ټاکل شوی دی، او د الله جل جلاله حکم لره هېڅ بدلون نشته.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4811

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee